# شتمني SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

چهارشنبه | د رجب المرجب ۲۷-۱٤٤٥ال س/ د سلواغې ۱۸-۱٤۰۲ال ل/ د فبروری ۷-۲۰۲٤ز/دوهم کال / ۸٦ گڼه/ ٤ مخيز ۱


مسواك وهل نبوي لاربښوونه ده:

په رد مختار کي د مسواك (۷۰) گټي ذکر سوي دي، چي مهمي ئې په لاندي ډولي دي :

۱ـ د غاښونو ورۍ ټينگوي. ۲ – د ټوخي بلغم له منځه وړي، چي بلغم کم سي؛ نو ذهن پياوړی کېږي. ۳ - د خولې بد بويي له منځه وړي او خوشبويه کوي ئې. ۴- صفرا ليري کوي.۵ – د سترگو ليد تېزوي. ٦ - تر ټولو مهمه گټه ئې داده، چي د مرگ په حالت کي ئې کلمه شهادت په نصيب کېږي.

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سر مقاله

### نقش بندهای آبی بر اقتصاد کشور

منابع طبیعی بـه خصـوص آب بـه یکـی از مهم‌ترین نگرانـی دنیـای امـروز تبدیـل شـده اسـت و افغانسـتان بـه لحـاظ آبـی منابـع سرشـاری دارد کـه در صـورت موجودیـت یـك استراتیژی و مدیریـت آبـی، میتوانـد از یـك کشور مصرفی و وارداتـی بـه یـك کشـور خودکفا در بخـش زراعـت، انـرژی و مـواد غذایـی مبدل شـود. سـاخت و ایجـاد بنـد هـای آبـی یکـی از راهـکار هـای اساسـی بـرای مدیریـت و حفـظ منابـع آب و سر انجـام استراتیژی بـرای خـود کفایـی در بخـش هـای فـوق بـه شـمار میـرود. بنـد هـا بـا تأمیـن منابـع آب آشـامیدنی و آبیـاری زمیـن هـای کشـاورزی، تأمیـن انـرژی بـرق آبـی، جلوگیـری از وقـوع سـیل، ایجـاد محیـط گردشـگری زیبـا و دیگـر مزایـا، نقـش پـر رنگـی در توسـعه اقتصـادی دارنـد. یکـی از مهـم تریـن اثـرات آن بـرای زراعـت ایـن اسـت کـه مـزارع للمـی و دشـت هـای سـوزان بـه مـزارع آبـی تبدیـل مـی شـوند، تبدیـل اراضـی مرتفعـی بـه زمیـن هـای زراعتـی، تغییـر در نـوع کاربـری اراضـی، کشـت غـلات، علوفـه، درختـان میـوه و محصـولات افزایـش یافتـه و درآمـد حاصـل از آن نیـز افزایـش میابـد. عـلاوه بـر ایـن، در دسـترس بـودن منابـع آب کافـی باعـث افزایـش کیفیـت محصـول نیـز مـی شـود کـه خـود منجـر بـه افزایـش درآمـد مـی شـود. بـه طـور کلـی میتـوان گفـت بـا احـداث بنـد، زندگـی زارعیـن از نظـر اقتصـادی بهبـود میابـد. از سـوی دیگـر، بنـد هـا بـه تأمیـن انـرژی بـرق کمـك نمـوده و در توسـعه ای صنعتـی کشـور نقـش بسـیار مهمـی را بـازی مـی کننـد. تأمیـن انـرژی پایـدار و ارزان از منابـع داخلـی بەویـژه بنـد هـا، عـلاوه بـر روشـنایی خانـه هـای شـهروندان، بـرای تأمیـن بـرق کارخانـه هـای تولیـدی بەخصـوص پـارك هـای صنعتـی نیـز بـه کار خواهنـد رفـت کـه در نتیجـه بـه تقویـت تولیـدات داخلـی و رشـد اقتصـادی کشـور کمـك خواهنـد نمـود. اصـولاً بندهـا بـه منظـور ذخیـره آب و تامیـن آب شـرب و زراعـت و صنعـت سـاخته مـی شـوند هرچنـد مهـار سـیلابها و ایجـاد ارتفـاع آب بـه منظـور تامیـن انـرژی پتانسـیل بـرای ایجـاد نیـروگاه نیـز مـی توانـد از اهـداف اولیـه احـداث بنـد هـای بلنـد باشـد، بـه هـر صـورت سـاخت و ایجـاد بندهـای آبـی می‌توانـد تأثیـرات مهمـی بـر اقتصـاد و محیـط زیسـت کشـور هـا داشـته باشـد. بندهـا بـه منظـور ذخیـره آب و تامیـن آب شـرب و زراعـت و صنعـت سـاخته مـی شـوند. سـاخت بندهـای آبـی باعـث پوشـش گیاهـی اطـراف بنـد هـا و در نتیجـه جلوگیـری سـیلاب هـای موسـمی منطقـه تخریـب زمیـن هـای زراعتـی و زیرسـاخت هـای اقتصـادی در مناطـق سـیلاب زده جلوگیـری نمایـد. در پهلـوی آن ایـن بنـد هـا بـه عنـوان بنـد هـای دریایـی اسـتراتیژیک عمـل کننـده و حمـل و نقـل آبـی را تسـهیل مـی کننـد. آب جمع‌آوری شـده در بنـد هـای آبـی میتوانـد بـه صـورت کشـتی‌ها و یـا سـایر وسـایل حمـل و نقـل آبـی بـه مناطقـی کـه در خشکسـالی قـرار دارنـد، منتقـل شـود. افغانسـتان از لحـاظ داشـتن آب هـای طبیعـی زمینـه بهتـری بـرای ایجـاد بنـد هـا، رشـد زراعـت و مالـداری و تولیـد انـرژی و از ایـن طریـق ایجـاد شـغل بـه عـده کثیـری از هموطنـان مـی باشـد. متأسـفانه بـر اثـر نبـود یـك اسـتراتیژی بـرای مدیریـت آب، نـه تنهـا سـالانه بـه ارزش میلیـون هـا دالـر انـرژی بـرق از کشـور هـای همسـایه وارد مـی گـردد، بلکـه زارعیـن از آب مسـتفید نشـده و زراعـت و صنعـت کشـور نیـز آسـیب مـی بینـد. بـا مدیریـت جدیـد امـارت اسـلامی از بنـد هـای آبـی در افغانسـتان توقـع مـی رود تـا ظرفیـت تولیـد انـرژی بـرق را افزایـش چشـمیگری دهـد و محصـولات و تولیـدات داخلـی رشـد و بسـوی خودکفایـی رهنمـود گـردد. در حـال حـاضر رهـبری امـارت اسـلامی بـا تمـام تـوان در صـدد ایجـاد بنـد هـای آبـی بیشـتر بـرای تولیـد بـرق و رفـع مشـکلات کشـت و زراعـت و رفـع خشکسـالی هسـتند.

**با احترام**

**اداره**


## د ۱۴۰۳ مالي کال د ملي عوایدو لومړنۍ استماعیه ناسته ترسره سوه



د ماليې وزارت لـه لـوري د ړنـو مـلي عوايـدو راټولولـو، د عوايـدي سرچينـو د ښـه مديريـت او پـه را روان (۱۴۰۳هــ.ل) مـالي کال کـي د ادارو لپـاره د عوايـدي هـدف ټاکلـو پـه موخـه، د مـلي عوايـدو لومړنـۍ اسـتماعيه ناسـته تـرسره سـوه. پـه دې ناسته کي، چي د ماليې وزارت د اړونـدو رياسـتونو يـو شـمېر رئيسـانو، د مـلي دفـاع، کورنيـو چـارو، ټولگټـو او لـوړو زده کـړو وزارتونو اسـتازو گـډون کـړی وو، پـه پيـل کـي د يـادو وزارتونـو د اسـتازو لـه لـوري د روان مـالي کال لپـاره د عوايـدي هـدف د وضعيـت پـه تـړاو معلومـات وړانـدي سـول او ورپسـې پـه را روان (۱۴۰۳هــ.ل) مـالي کال کـي پـر فرصتونـو، عايـداتي سرچينـو او د عوايـدي هـدف پـر څرنگوالي بحـث وسـو او د غـوره عوايـدو د ترلاسـه کولـو پـه موخـه د يـادو بوديجـوي واحدونـو لـه اسـتازو سره اړيـني سپارښـتني شريکـي سـوې. د يـادوني وړ ده، چـي د مـلي عوايـدو اسـتماعيه ناسـتي بـه د پـاتي نـورو بوديجـوي واحدونـو لـه اسـتازو سره د روانـي اوونـۍ د پنجشـنبې تـر ورځـي پوري دوام ولـري.

## په ۱۴۰۲ مالي کال کي د ماليې وزارت مهمي پراختيايي پروژې او فعاليتونه

ماليـې وزارت تـه پـه (۱۴۰۲) مـالي کال کـي(۱) ميليـارډ او(۵۰۵) ميليونـه افغانـۍ پراختيايـي بوديجـه منظـوره سـوې وه. پـه مـلي کچـه د ماليـې وزارت لومړيتـوب لرونکـي مهمـي عايـداتي پراختيايـي پـروژې پـه لانـدي ډول وې: د گمرکونـو عـصري کولـو پـروژه (بيارغونـه، د برېښـنايي سيسـتمونو رامنځتـه کـول او مسـلکي ظرفيـت لوړونـه) د مـلي بوديجـې د پلانگـذاری او اجـراء سيسـتم(SBPS) د سـاتني، سـمون او پراختيـا پـروژه. د مـلي بوديجـې د (DAD) سيسـتم کلنـی فيـس، بوديجـه جوړونـه او د تخصـصي کارکوونکـو د لگښـتونو پـروژه. د ارزښـت لرونکـو سندونو(پاسـپورټ) د چـاپ پـروژه. د عوايـدو لـوی رياسـت لپـاره د ټکنالوژيکـي وسـايلو او دفـتري تجهيزاتـو برابرولـو پـروژه. د مرکـز د کوچنيـو او سـترو ماليـه ورکوونکـو د ماليـاتي حـوزو د بيارغـوني پـروژه. د عوايـدو د لـوی رياسـت د سيسـتمونو د ښـه والي، ظرفيـت لـوړوني او عامـه پوهـاوي پـروژه. د ولايتـي مسـتوفيتونو لپـاره د لمريـزي برېښـنا سيسـتم چمتـو کولـو پـروژه. د ولايتـي مسـتوفيتونو لپـاره د نويـو ټکنالوژيکـي وسـايلو او دفـتري تجهيزاتـو پـروژه. پورتـه پـروژې ځينې تکميل سـوي او د ځينـو کارونه لا روان دي.




ماليـې وزارت پـه ۱۴۰۲ مـالي کـال کـي (۷۸) پراختيـايي پـروژې لـري چـي مجمـوعي ارزښت ئې (۱،۵) ميلیارډه افغانۍ دئ

| شماره | د پروژو ډول | د پروژو تعداد | د پروژو مجموعي ارزښت |
| --- | --- | --- | --- |
| 1 | عصري سازي | 29 | 543,666,208 |
| 2 | بيارغوني/ بازسازي | 43 | 464,033,561 |
| 3 | د ارزښت لرونکو اسنادو او پاسپورټ چاپ | د پاسپورټ په شمول 150 ارزښت لرونکي اسناد | 504,450000 |
| 4 | ظرفيت لوړونه | 5 | 11,409,950 |
| 5 | ټولټال پراختيايي بوديجه | | 1,523,559,719 |

**مهمه يادونه او د پروژو د ټاکلو د اهميت څرگندتيا:**

دا چـي د اسـلامي امـارت لـه بيـا حاکميـت څخـه وروسـته د افغانسـتان مـلي بوديجـه لـه خپلـو داخـلي منابعـو څخـه تمويلېږي؛ نـو پـر همـدې بنسـټ، ماليـې وزارت هم هغـه لومړيتوب لرونکـي فعاليتونه (پروژې) پـه نظرکـي ونيولـې، چي د مـلي عوايدو پـه زياتـوالي، روښتيا رامنځتـه کېدلو، سـوداگرو او ماليـه ورکوونکـو تـه داسـانتياوو رامنځتـه کولـو لپـاره گټـوري دي، همـدا راز د اضـافي لگښـتونو د لـه منځـه وړلـو برخـي تـه هـم دپـام وړ پاملرنـه سـوې، چـي لـه مخـي ئـې د پراختيايـي بوديجـې پـر ځـای مصرفولو او سـپما تـه زمينـه برابـره سـوې ده او يـاده بوديجـه د اوس لپاره بسـنه کوي.

## د هيوادوالو د اقتصادي وضعيت د ښه والي په موخه په ملي کچه د ماليې وزارت مهم فعاليتونه

د تېـري اداري (جمهوريـت) پـر نظـام بانـدي تقريبـاً (۱۸۰) ميليـارډه افغانـۍ د خلکـو قرضونـه، تأمينـات او تضمينـات پـاتي دي، د ماليـې وزارت پـه يـوه بېسـاري اقـدام سره د دغـو تاديـات يـا د ورکـړي پروسـه پيلـوي. پـه روان مـالي کال کـي د هغـه ادارو، چـي قرضونـه ئـې تثبيـت سـوي، لـس سـلنه ئـې ورکـول کېـږي، چـي عمـلاً ئـې حوالـې را رواني دي او د ماليـې وزارت ئـې تاديـه کـوي. د ماليـې وزارت لـه لـوري هـره مياشـت پـه منظـم ډول تقريبـاً (۱) ميليـون دولتـي کارکوونکـو تـه پـه نورمـال ډول معاشـونه ورکـول کېـږي، چـي لـه دې جملـې څخـه ئـې (۸٦۹۸۱) تنـې، ښـځينه کارکوونکـي دي. د هيـواد پـه گمرکونـو کـي پـر لومړنيـو خوراکـي توکـو بانـدي گمرکـي محصـول تـر(۷۰) سـلني پـوري را کمـول. د کـورني صنعـت د ودې او ملاتـړ پـه موخـه پـر يـو شمېر وارداتي اقلامو باندي گمرکي محصول لوړول. د هيواد په گمرکونو کي د صادراتي توکو طی مراحلو ته لومړيتوب ورکول. د خصوصي سکټور د ودې او ملاتړ لپاره د تېرو کلونو د مالياتي جرايمو معافول.

خصـوصي پوهنتونونـو، مدرسـو او ښـونځيو تـه د (۱۴۰۲) مـالي کال لپـاره (۴٪) سـلنه ربعـواره انتفاعـي ماليـه معافـول. د هيـواد پـه گمرکونـو کـي د کاري مـودې زياتـول. د سوداگرۍ د ودې په موخه ټرانزيټي محمولو ته لازمي اسانتياوي برابرول. د صنعـت د ودې او پراختيـا پـه موخـه کرنيـزو، صنعتـي او سـوداگريزو سـکټورونو تـه (۷٪) قـراردادي موضوعـي ماليـه معافـول. د صنعتي سـکټور ربعـواره انتفاعي ماليه له (۴٪) څخـه (۲٪) تـه را ټيټول. د (۱۴۰۲) مـالي کال، پـه ملي بوديجـه کي د (۸۰) زرو څخـه تـر (۱۰۰) زرو پـلان سـوو معتادينـو د عـلاج لپـاره بوديجـه په نظر کي نيـول.





د ماليې وزير د هيواد د شمال زون د يو شمېر ولايتونو له مسؤلينو سره وکتل

م ۲



د ماليې وزير د غزني ولايت له ولسوالانو سره وکتل

م ۲




معين عوايد و گمرکات از يکتعداد فابريکات صنعتی ديدن نمود

م ۳



د خصوصي سکټور ملاتړ او د هيواد پر اقتصاد ئې اغېزې

م ۳



د ننگرهار گمرک د گرځنده څارني کارکوونکو د يو شمېر نظامي توکو د قاچاق مخه نيولې

م ۳




د افغانستان د اقتصاد په اړه د نړيوال بانك له خوا د (۲۰۲٤)ز د جنوري مياشتنی راپور

م ٤

SHTAMANI
اوونیزه

## د مالیې وزیر د غزني ولایت له ولسوالانو سره وکتل



د مالیې وزیر، الحاج ملا محمد ناصر اخوند د غزني ولایت د (۱۹) ولسوالیو له ولسوالانو سره وکتل او د دوی ستونزې او غوښتنې ئې واورېدې.
په دې کتنه کې، د غزني ولایت ولسوالانو د خپلو ولسوالیو د ستونزو شریکولو ترڅنګ، غوښتنه وکړه؛ چې د راتلونکي مالي کال په ملي بودیجه کې د دغه ولسوالیو لپاره په روغتیایي، بیا رغوني او نورو برخو کې د پراختیایي پروژو لپاره بودیجه ځانګړې کړي؛ ترڅو د غزني ولایت د ولسونو ستونزې ورسره حل سي.
د مالیې وزیر وویل، هڅه ئې داده، چې د ټولو هیوادوالو ستونزو ته د ملي بودیجې د لګښتونو په وسیله رسېدنه وکړي او داډ ئې څرګند کړ، چې د غزني ولایت د ولسونو سره به هم، په یادو برخو کې د پروژو پلي کولو په موخه اړیني همکاري وسي.

## د عوایدو لوی ریاست د شهزاده سرای صرافانو ته د اظهار نامې په تړاو روزنیز پروګرام پیل کړ

د عوایدو لوی ریاست د رهبرۍ او صرافانو د اتحادیې د استازو له خپلمنځي ناستي وروسته دغه ریاست پرېکړه وکړه، چې د شهزاده سرای صرافانو ته د اظهار نامې په برخه کي روزنیز پروګرام ترتیب کړي.
په دغه پروګرام کې، چې د عوایدو او ګمرکونو په ملي اکاډمۍ کي جوړ سوی وو، د عوایدو لوی ریاست اړوند د مالیه ورکوونکو د خدمتونو رئیس عبدالقیوم نصیر، د عوایدو لوی ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر حافظ سید احمد هائد، د عوایدو او ګمرکونو اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي، د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ ریاست د مالیاتي معافیتونو آمر روزي محمد نېکمل او د صرافانو د اتحادیې مرستیال الحاج حمدالله همدرد ګډون کړی وو.
د یادوني وړ ده، چې په دغه روزنیز پروګرام کي به (۲۵۰) تنو ته د یوې اوونۍ په موده کي د اظهارنامې د وړاندي کولو په برخه کي روزنه ورکړل سي.

## د ننګرهار ګمرک د ګرځنده څارني کارکوونکو د یو شمېر نظامي توکو د قاچاق مخه نیولې



د ننګرهار ګمرک د ګرځنده څارني ځیرکو کارکوونکو د یاد ولایت د ډکې په سیمه کي د یو شمېر نظامي تجهیزاتو د قاچاق مخنیوی کړی، چې غوښتل ئې له پاکستان څخه ئې افغانستان ته راولېږدوي.
په نیول سوو تجهیزاتو کي (۱۲) عدده د کلکوف شاجورونه، (۳۰) عدده د توفنچې شاجورونه، (۲۰) عدده د نورو بېلابېلو وسلو شاجورونه او یو شمېر نور تجهیزات شامل دي.
په دې تور یو کس نیول سوی، چې د نورو څېړنو لپاره به اړوندو امنیتي ارګانونو ته ور وسپارل سي.

## د مالیې وزیر د هیواد د شمال زون د یو شمېر ولایتونو له مسؤلینو سره وکتل





د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند د هیواد شمال زون ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کي، د کندوز، سمنګان، بغلان او سرپل ولایتونو له ولایتي مسؤلینو او مستوفیانو سره وکتل.
په دې کتنو کي، چې د ګمرکونو لوی رئیس مفتي عبدالمتین سعید او یو شمېر نورو مسؤلینو هم حضور درلود، د مستوفیتونو او ولایتي ادارو پر لا ښې همغږۍ، په شفاف ډول د مالیاتو پر راټولولو، د لګښتونو پر ښه مدیریت، د ملي عوایدو په راټولولو کي د ولایتي او مالیاتي ادارو ترمنځ په لازمه همکارۍ، خبري او د نظرونو تبادله وسوه.
همدارنګه د مالیې وزیر د ولایتونو مالیاتي ادارو مسؤلینو ته لازمي سپارښتني وکړې او د بې ځایه لګښتونو پر مخنیوي او د اصولي کړنو په ترسره کولو ئې ټینګار وکړ: ترڅو مالیات په ټاکلي وخت او شفاف ډول راټول او ملي خزانې ته وسپارل سي.

## د مالیې وزارت او البیروني پوهنتون ترمنځ د همکارۍ دوه اړخیز هوکړه لیک لاسلیک سو

د مالیې وزارت او البیروني پوهنتون ترمنځ، د علمي او مسلکي ظرفیت لوړوني په موخه د همکاریو دوه اړخیز هوکړه لیك لاسلیك سو.
یاد هوکړه لیک، د مالیې وزارت د بشري سرچینو د رئیس مولوي احمد شاه شاکر او د البیروني پوهنتون د محصلینو چارو د رئیس مشتاق حقیار له لوري لاسلیك سو، چې پر بنسټ به ئې اړتیا ته په کتو د مالیې وزارت هغه کارکوونکي، چې د علمي زده کړو په برخه کي ظرفیت لوړولو ته اړتیا ولري، البیروني پوهنتون ته ور پېژندل کېږي؛ همدا راز به د یاد پوهنتون محصلین د عملي او مسلکي زده کړو او تجربو حاصلولو په موخه، مالیې وزارت ته ور پېژندل کېږي.
د علمي او مسلکي همکاریو له دغي دوه اړخیزي هوکړي سره به د مالیې وزارت د کارکوونکو، علمي او مسلکي ظرفیت لوړ سي، همدا رنګه به نویو فارغ سوو محصلینو ته د عملي زده کړو او اړینو تجربو ترلاسه کولو ښه زمینه هم برابره سي.

## د کورنۍ پلټني لوی رئیس او ورسره مل پلاوي خوست، پکتیا، پکتیکا او لوګر ولایتونو ته سفر وکړ

د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رئیس انجنیر عبداللطیف خالد په مشرۍ د دې ریاست یوه پلاوي د چارو د کتني او ارزوني په موخه خوست، پکتیا، پکتیکا او لوګر ولایتونو ته سفر وکړ او د دغو ولایتونو د مستوفیتونو او ګمرکونو څخه ئې لیدنه وکړه.
ښاغلي خالد، د یادو ادارو هراړخیزه ارزونه وکړه او د پرمختیایي فعالیتونو په ځانګړې توګه د ګمرکونو د عصري کولو چارو، تجهیزاتو او وسایلو څخه ئې لیدنه وکړه او اړوندو مسؤلینو او کارکوونکو سره ئې لازمي لارښووني او مشورې شریکې کړې.
نوموړي د یادو ادارو له مسؤلینو سره په ناستو کي د پلټني د اصلاحي سپارښتنو د تطبیق په اړه هم خبري وکړې او ټینګار ئې وکړ، چې سپارښتني باید پرته له ځنډه څخه عملي او د کورنۍ پلټني لوی ریاست ته اطمینان ورکړل سي. په ورته وخت کي د کورنۍ پلټني لوی رئیس د یادو ادارو له مسؤلینو او کارکوونکو څخه مننه وکړه، چې د وروستیو پلټنو ډېری سپارښتني ئې تطبیق کړي او هیله ئې څرګنده کړه، چې پاتي سپارښتني هم ژر تر ژره پلي سي.
د دې ترڅنګ ښاغلي انجنیر عبداللطیف خالد، د دغو ادارو له کارکوونکو او هري شعبې څخه په جلا توګه لیدنه وکړه، د هغوی ستونزې او غوښتنې ئې واورېدې او ژمنه ئې ورسره وکړه، چې کابل ته له ستنېدو سره سم به د دغو ادارو ستونزې او لازمي غوښتني له اړوندو چارواکو سره شریکي کړي؛ ترڅو ئې په اړه لازم ګامونه پورته سي.





## د ولایتي ګمرکونو د تهیې او خریدارۍ مدیرانو ته د تدارکاتي پروسې په تړاو انلاین روزنیز پروګرام جوړ سو

د بشري سرچینو ریاست، د تدارکاتو ریاست په همکارۍ د ولایتي ګمرکونو د تهیې او خریدارۍ مدیرانو ته انلاین روزنیز پروګرام جوړ کړ.
په دغه ناسته کي، چې د مالیې وزارت، اداري معینیت د کنفرانسونو په سالون کي جوړه سوې وه، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمد شاه شاکر، د تدارکاتو رئیس سید بشیراحمد او یو شمېر نورو مسؤلینو ګډون کړی وو.
مولوي احمدشاه شاکر د دغه پروګرام په پرانیستي وینا کي وویل: لکه څنګه، چې په ادارو کي د ستونزو اصلي سرچینه د اصولو او قوانینو په اړه د کارکوونکو نه پوهاوی دئ، نو د مالیې وزارت مشرتابه د ظرفیتونو پر لوړولو او په مسلکي پوهې باندي ټینګار کړی، د بشري سرچینو ریاست کوښښ کوي، چې د انلاین او حضوري روزنیزو پروګرامونو له لاري دغه تشه ډکه کړي.
نوموړي له ګډونوالو وغوښتل، چې له شته فرصتونو او امکاناتو څخه مثبته ګټه پورته کړي، خپل ظرفیتونه لوړ کړي او ورسپارل سوي دندې د دندو د لایحې او اصولو سره سم پرمخ یوسي.
د تدارکاتو رئیس سید بشیراحمد د تدارکاتو په پروسه کي د شته ستونزو په اړه معلومات ورکړل او له ګډونوالو ئې وغوښتل، چې په ورسپارل سوو مسؤلیتونو کي جدي پاملرنه او له مراجعینو سره ښه چلند وکړي.
د ګمرکونو عملیاتي مرستیال مولوي نقیب الله عابد چې په دې ناسته کي ئې په انلاین ډول ګډون کړی وو، د مالیې وزارت اړوندو ادارو د کارکوونکو ظرفیت لوړوني په موخه د روزنیزو پروګرامونو د جوړولو له امله د بشري سرچینو له ریاست څخه مننه وکړه او له ګډونوالو ئې وغوښتل، چې له چمتو سوي پروګرام څخه په سمه توګه ګټه واخلي او هغه څه، چې زده کوي نورو ته ئې هم انتقال کړي؛ ترڅو کارونه په اصولي ډول پرمخ ولاړ سي.



د یادوني وړ ده، چې دغه پروګرام به یوه اوونۍ دوام وکړي، چې په هغه کي به ګډونوالو ته تدارکاتي پلان او پروسې، د آفرونو ارزونه، شرطپاڼي او قراردادونه تشرېح او توضیح کړای سي.

## ریاست عمومی املاک دولتی هزاران متر مربع زمین غصب شده را استرداد کرده

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه که مسئولیت ثبت، راجستر، مدیریت و بهره برداری تمام جایداد های غیر منقول مازاد ضرورت و تحت پلان توسعه‌ای ادارات دولتی و ریاست های مستقل دولتی و جایداد های خارج از کشور را به عهده دارد، به اثر تفاهم وزارت شهر سازی و وزارت مالیه بر اساس حکم شماره (۵۰۹) مورخ (۱۳۹۸/۲/۲۵) حکومت وقت، تشکیل آن با وزارت شهر سازی و اراضی مدغم و انتقال گردیده که در نتیجه یک خلاء بزرگ در مدیریت جایداد های دولتی به وجود آمده که باعث فروپاشی ریاست عمومی املاك گردید.
با حاکمیت دوباره امارت اسلامی افغانستان طبق هدایت فیصله فقره (۲) مصوبه شماره (۱۴) مورخ (۱۴۴۳/۵/۹) کابینه امارت اسلامی افغانستان تشکیل که در اثر آن ریاست عمومی املاك دولتی در مرکز و ولایات از تشکیل وزارت شهر سازی و مسکن حذف و به تشکیل وزارت مالیه دوباره مدغم گردیده و فعالیت خویش را طبق سابق زیر چتر وزارت مالیه ادامه میدهد.
این ریاست با داشتن ظرفیت موجود و با مدیریت سالم و مؤثر ملکیت های غیر منقول مازاد ضرورت ادارات دولتی، تحت پلان توسعه‌ای ادارات، در داخل و خارج از کشور، استفاده موثر زمین و املاك دولتی از طریق اجاره و کرایه عواید ملموس را بدست آورده است.
حدود (۵۲) جایداد های غصب شده ملکیت این ریاست در مرکز که قبل از انتقال تشکیل آن به وزارت مالیه تحت تصرف سایر نهاد ها و افراد قرار داشت، با سعی و تلاش مسئولین این ریاست از آن جمله (۲۲۰۰۰) متر مربع زمین کوپراتیف های دهقانی واقع خیرخانه، (۴) هکتار زمین اتحادیه جوانان واقع ناحیه نهم، (۴٦) جریب زمین مقابل فابریکه نساجی ولسوالی بگرامی، (۴۲۰۰) متر مربع زمین پایکوب نصوار واقع ناحیه چهارم تثبیت گردید که در کنار آن (۴۰۰۰) متر مربع زمین تصدی منحل شده پشمینه بافی واقع ناحیه نهم، (۱۵) جریب زمین د افغانستان بانك واقع ولسوالی شکردره، (۴) جریب و (۱۱) بسوه زمین واقع ولسوالی میربچه کوت، حدود (۲۰۰) دوکان در ساحه نساجی ولسوالی بگرامی کابل از تصرف غیر قانونی افراد حقوقی و حکمی خارج و به ریاست مربوطه انتقال گردیده است.
در حال حاضر کارمندان ریاست امور حقوقی ریاست عمومی املاك دولتی برای استرداد جایداد های باقیمانده و اموال غصبی این ریاست تلاش میورزد تا تمامی جایداد های خویش را دوباره زیر چتر این ریاست تنظیم نماید، قابل ذکر است که مسئولیت استرداد جایداد های غصب شده این ریاست را مدیریت های املاك که در چوکات مستوفیت ها فعالیت دارند، به عهده دارد.
این ریاست با داشتن طرزالعمل مشخص، فارمت های قرارداد، شرطنامه معیاری در طی مراحل قرارداد ها بصورت شفاف در روشنی قانون تنظیم امور زمینداری و سایر قوانین وطرزالعمل نافذه امور مربوطه خویش را انجام میدهد که از طریق سیستم (GIS) امور تثبیت مساحت جایداد ها به شکل معیاری و ثبت آن به صورت منظم شفاف در سیستم دیتابیس توسط کارمندان مسلکی و با تجربه طبق پالیسی امارت اسلامی افغانستان صورت میگیرد.

شتمنی SHTAMANI اوونیزه


# د خصوصي سکتور ملاتړ او د هیواد پر اقتصاد ئې اغېزې

عتیق الله میاخېل

د خصوصي سکتور اصطلاح هر چا ته هغه خوځنده اقتصادي طبقه ور پېژني، چې فعالیتونه ئې د دولت له دایرې څخه وتلي وي او په خاصو خلکو یا عوامو، سوداګرو او پانګوالو پورې اړه لري؛ خو د موجوده نظامونو له شرایطو او پالیسیو سره سم مخ پر وړاندې ځي. خصوصي سکتور په هیوادونو کې د اقتصادي تحرک او له دولتونو سره د اوږه په اوږه کارکولو او د پرمختګ نا تمامه انرژي بلل کېږي. د خصوصي سکتور ملاتړ کول د هیواد په اقتصاد باندې د پام وړ اغېزې لرلی سي، چې مونږ غواړو په دغه مقاله کې ئې په لنډو ټکو کې را ونغاړو.

• اقتصادي وده: د خصوصي سکتور ملاتړ د هیواد له اقتصادي ودې او پرمختګ سره مرسته کولای سي، کله چې د خصوصي سکتور څخه ملاتړ او تشویق وسي، خصوصي شرکتونه رامنځته کېږي او په فعالیت باندې پیل کوي، چې له دې سره زیات کاري فرصتونه او د خلکو په عایداتو کې زیاتوالی راځي. د عوایدو زیاتوالی په کورنیو بازارونو کې د تقاضا او لګښت د زیاتوالي لامل کېږي او په پایله کې اقتصادي ودې ته خوځښت ورکوي.

• د پانګوني جذب: د خصوصي سکتور څخه ملاتړ د کورنۍ او بهرنۍ پانګوني په جلبولو کې مرسته کوي، دولت باید د پانګوني د جذب لپاره پانګوالو ته مناسب چاپېریال، د پانګوني په شرایطو کې اسانتیاوې او په مالیاتي برخو کې معافیتونه رامنځته کړي، چې د پانګوني په جذب سره په هیواد کې د صنعت د پراختیا، کارموندني،





د صادراتو او کورني تولیداتو د زیاتوالي لامل ګرځي.

• نوښت او ټکنالوژي: خصوصي سکتور معمولاً په نوښتونو او د ټکنالوژۍ په پرمختګ باندې تمرکز کوي، چې نوښتونه او ټکنالوژۍ د خصوصي سکتور په برخه کې د نوو څېړنو، د تولیداتو د پراختیا، د لګښتونو په کنټرول او سپما او د خصوصي سکتور په صنعتي فعالیتونو کې ښه والی رامنځته کوي او همدارنګه د شرکتونو او صنعتي فابریکو په تولیداتو کې د زیاتوالي سبب ګرځي، چې په اقتصادي وضعیت باندې مثبته اغېزه کولای سي.

• کاري فرصتونه برابرول: خصوصي سکتور په هیواد کې د کاري فرصتونو د رامنځته کولو اصلي سرچینه ګڼل کېږي، دولت باید د خصوصي سکتور ملاتړ وکړي؛ ترڅو یاد سکتور ځانته د ودې او پراختیا زمینه برابره کړي. کله چې په خصوصي سکتور کې پراختیا رامنځته سي؛ نو په هیواد کې بېکاري له منځه ځي، د دولت عاید ور سره زیاتېږي، پر امنیت باندې مثبته اغېزه کوي او د پانګوالو د هڅوني لامل ګرځي.

• په تولیداتو کې سالم رقابت: د خصوصي سکتور څخه ملاتړ کولای سي، چې په بازارونو کې د تولیداتو ترمنځ سالم رقابت پیاوړی کړي او د خصوصي سکتور ملاتړ دې ته زمینه برابروي، چې تولیدي شرکتونه د سالم رقابت لپاره د خپلو تولیداتو په کیفیت او قیمت باندې زیات تمرکز وکړي؛ ترڅو د هیواد په بازارونو کې د توکو کیفیت کنټرول او د قیمتونه د لوړوالي مخنیوی وکړي.


• د صادراتو زیاتوالی: د خصوصي سکتور ملاتړ کولای سي د هیواد د صادراتو په زیاتولو کې مرسته وکړي. خصوصي شرکتونه او فابریکې معمولاً کوښښ کوي، چې په نړیوالو بازارونو کې خپلو تولیداتو ته د ځای پیدا کولو لپاره سالم رقابت وکړي؛ ترڅو وکولای سي په نړیوالو مارکېټونو کې د خپلو تولیداتو لپاره ځای پیدا کړي او دوی وکولای سي خپل محصولات له هیواد څخه بهر صادر کړي؛ نو دولت باید خصوصي سکتور ته په صادراتي برخو کې لازمي اسانتیاوې او ګمرکي معافیتونه ورکړي، چې یاد سکتور وکولای سي په نړیوالو مارکېټونو کې سالم رقابت وکړي. د صادراتو په زیاتوالي سره د کورنیو اسعارو د بیو په کنټرول سر بېره د هیواد په ناخالصو تولیداتو (GDP) باندې مثبته اغېزه اچوي.

• د خصوصي سکتور ملاتړ د اقتصادي تنوع لامل کېدای سي، کله چې دولت له خصوصي سکتور څخه ملاتړ وکړي او بېلابېلو خصوصي شرکتونو ته د پانګوني زمینه برابره سي؛ نو هیواد له اقتصادي انحصاره باسي او اقتصادي تنوع کولای سي، چې د هیواد د اقتصادي خطر اندازه کمه کړي او د هیواد په اقتصاد باندې مثبته اغېزه وکړي.

په پایله کې باید وویل سي، چې د خصوصي سکتور ملاتړ کولای سي د اقتصادي ودې، کارموندني، نوښتونو رامنځته کولو، د پانګې جذبولو او د هیواد اقتصادي تنوع په رامنځته کولو کې مرسته وکړي، چې د دې ګټو تر لاسه کولو لپاره دولتونه باید مناسبې پالیسۍ، د پانګوني لپاره هر اړخیز قوانین، د فساد مخنیوی، دا‌یمن امنیت، سالم رقابت او همدارنګه، د خصوصي سکتور د ملاتړ د مثبتو اغېزو د اعظمي کولو لپاره د دولت او خصوصي سکتور د رول تر منځ مناسب انډول رامنځته سي او په پراخه کچه پورتنیو موارډو ته زمینه برابره سي، چې د دغو موارډو په رامنځته کولو سره به موږ یو پرمختللی اقتصادي هیواد ولرو.

## معین عواید و گمرکات از یکتعداد فابریکات صنعتی دیدن نمود

ملا عبدالقاهر حاجی ادریس معین عواید و گمرکات و هیأت همراه که محترم شیرباز کمین زاده رئیس اتاق معادن و سرمایه گذاری افغانستان نیز ایشان را همراهی می کرد، از یکتعداد فابریکات صنعتی شهر کابل دیدار کردند. معین عواید و گمرکات از سرمایه گذاران که به منظور آبادی کشور



و ایجاد زمینه کار برای هموطنان عزیز سرمایه گذاری کردند سپاسگذار نمود. وی به ایشان اطمینان داد که رسیدگی به مشکلات سرمایه گذاران از اولویت امارت اسلامی به ویژه وزارت مالیه می باشد و نظر به امکانات موجود تمام خواسته های اصولی شما مد نظر گرفته خواهد شد.

# اعلانات داوطلبی

### د کابل ولایت لومړۍ ناحیې اړوند د (۴) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چې د کابل ولایت د لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر (۱۴) منزله ودانۍ اول منزل کې لاندې(۴) دولتي ملکیتونه په جلا - جلا ډول داوطلبۍ ته وسپاري.

۱. یو باب (۵) مه شمېره غرفه، چې(۱۱،۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (۱۵۰۰۰) افغانۍ ده.

۲. یوباب (٦،۷) مه شمېره غرفه، چې (۸،۱) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (۲۵۰۰۰) افغانۍ ده.

۳. یوباب (۸) مه شمېره غرفه، چې (۴،۱) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې(۱۵۰۰۰) افغانۍ ده.

٤. یو باب (۲) مه شمېره غرفه، چې (٦،٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (۲۰۰۰۰) افغانۍ ده.

ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص چې غواړي نوموړي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي خپل غښتنلیکونه د اعلان د خپرېدو څخه وروسته د (۱۴) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپانه د اسنادو له ارزوني وروسته لومړني قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، پروژه چاپ مواد تبلیغاتی مالیاتی ریاست عمومی عواید دارای نمبر قرارداد (NCB/G/۱٤۰۲/MOF-۰۹۹) را با مطبعه صنعتی چهاردهی دارنده جواز نمبر (D-۱۰۰۰) به قیمت مجموعی مبلغ (۱,۲۳۲,۵۰۰) یک میلیون و دوصد و سی و دو هزارو پنجصد افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات - کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر وطی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس: وزارت مالیه چهار راهی پشتونستان–
ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم
تعمیر معینیت اداری.

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، پروژه تدارک الماری های آرشیف گمرک ولایت کندهار دارای نمبر قرارداد (NCB/G-۱۰۳/۱٤۰۲/MOF) را با شرکت محترم خدمات لوژستیکی افغان کابل نیازی لمیتد دارنده جواز نمبر (۰۱۰۲-٦٦٥) به قیمت مجموعی مبلغ (٦،۳۱٦،۵۵۱,۳) شش میلیون و سه صدو شانزده هزار و پنجصدو پنجاه و یک اعشاریه سه افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات - کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

### د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د کابل ولایت د (٤)،(۸)،(١٦) مو ناحیو اړوند د بګرامیو نساجۍ په داخل کې لاندې ٤ ملکیتونه په جلا- جلا ډول داوطلبۍ ته وسپاري

۱- د کابل ولایت د (۸) مې ناحیې اړوند سره یو باب رستورانت او (۸) بابه اطاقونه او صالون، چې ټول مساحت ئې (۱۲٦۰) متر مربع دي او میاشتنۍ کرایه ئې (۱۲٤۸۵۰) افغانۍ ده، د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وسپاري.

۲- د کابل ولایت د (٤) ناحیې اړوند د پروان دو پارک څنګ ته یو باب (۹) شمېره دولتي مغازه، چې مساحت ئې (۲۳۲) متره مربع دئ او میاشتنۍ کرایه ئې (۱۸٦۰۰) افغانۍ ده.

۳- یو باب هنګر د بګرامیو نساجۍ په داخل کې، چې مساحت ئې (۲۳۹,۹) متره مربع دئ او میاشتنۍ کرایه ئې (۲٦۲۵۰) افغانۍ ده.

٤- د کابل ولایت د (١٦) مې ناحیې اړوند د لومړي مکروریانو سره (۸۱۲٤,۷) متره مربع ځمکه او دوه بابه هنګرونه، چې میاشتنۍ کرایه ئې (۷۸۵۲۲۲) افغانۍ ده.

ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي نوموړي ملکیتونه په کرایه ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له نشر څخه وروسته د (۷) ورځو په موده کې د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپانه د اسنادو له ارزوني وروسته لومړني قیمت ته په کتو ترلاسه کړي.



ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمیره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

شتمني SHTAMANI
اوونیزه







# د افغانستان د اقتصاد په اړه د نړیوال بانک له خوا د (۲۰۲٤)ز د جنوري میاشتنی راپور


نړیوال بانک د افغانستان د اقتصاد په هکله د جنوري میاشتنی راپور خپور کړی دئ، چې پکښې د افغانستان صادراتو، وارداتو، او د افغانۍ ارزښت ته اشاره سوې ده او وایي په (۲۰۲۳)ز کې صادرات له (۲۰۲۲)ز کال سره د پرتلې وړ ول؛ ځکه چې د افغانستان د صادراتو له پاره پاکستان او هند له لومړنیو هیوادونو څخه شمېرل کېږي او لیکي، چې: «په (۲۰۲۳)ز کې د افغانستان ټولیز صادرات(۱,۹) بیلیونو امریکایي ډالرو ته رسېدلي ول، چې دا د پروسږ کال یا د (۲۰۲۲)ز په پرتله ٪(۰,٤) زیاتوالی ښیي.» د منسوجاتو یا ټوکر صادرات په (۲۰۲۳)ز کې ښه وده کړې وه، چې و ٪(٤٦) ته رسېږي او ټول ارزښت ئې (۲۸۱) میلیونه امریکایي ډالره کېږي؛ لاکن پروسږ کال (۲۰۲۲)ز ئې عاید (۱۹۲) میلیونو امریکایي ډالرو ته رسېدل. له بلي خوا بیا د خوراکي توکو صادرات ٪(۱۳) لوړ سوي دي، چې ارزښت ئې (۱,۳) میلیاردو امریکایي ډالرو ته رسېږي، چې په تېر (۲۰۲۲)ز کې ئې ارزښت (۱,۱) میلیاده امریکایي ډالره کېدی. نړیوال بانک، چې پاکستان او هندوستان ئې د افغاني صادراتو کور ګڼلی په اړه ئې لیکلي دي، چې په (۲۰۲۳)ز کې پاکستان ته د خوراکي توکو صادرات (٤٥۰) میلونو امریکایي ډالرو ته رسېدلي دي؛ خو هند ته ئې بیا د صادراتو ارزښت (٥۷۸) میلیونو امریکایي ډالرو ته رسېدلی دئ. د افغانستان د ګاونډیو او خلیجي هیوادونو په تړاو لیکي، چې ایران تر ټولو لوی واردوونکی ملک دئ، چې٪(۲۳) جوړوي، پاکستان ٪(۱۹)، چین ٪(۱٥) او د متحده عربي امارات هم ٪(۱٥) ته رسېږي. په دې راپور کې نړیوال بانک د افغانۍ ستاینه کړې ده او لیکلي ئې دي، چې په (۲۰۲۳)ز کې افغانۍ د لویو بهرنیو اسعارو په وړاندې د ستاینې وړ ده او لیکي: د ډالر په وړاندې ٪(۲۷,۱)، د یورو په وړاندې ٪(۲۳,٤)، د چینایي ین په وړاندې ٪(۲۳,۰)، د هندی روپی په وړاندې ٪(۲٥,۷)، د ایراني تومان په وړاندې ٪(٦۰,۰) او د پاکستانی کلداري په وړاندې بیا ٪(٤۲,۱) د ستاینې وړ ده. د نړیوال بانک دا راپور په وروستیو کرښو کې کاږي، چې د (۲٤-۲۰۲۳)ز مالي کال په لومړیو (۱۰) میاشتو کې (د ۲۰۲۳ کال د مارچ له ۲۲ څخه تر ۲۱ جنوري ۲۰۲٤ پورې) د عوایدو راټولول (۱۷۱) میلیارده افغانیو

> "په (۲۰۲۳)ز کې د افغانستان ټولیز صادرات و (۱,۹) بیلیونو امریکایي ډالرو ته رسېدلي وه، چې د (۲۰۲۲)ز په پرتله ٪(۰,٤) زیاتوالی ښیي. د (۲٤-۲۰۲۳)ز مالي کال په لومړیو (۱۰) میاشتو کې (د ۲۰۲۳ کال د مارچ له ۲۲ څخه تر ۲۱ جنوري ۲۰۲٤ پوري) د عوایدو راټولول (۱۷۱) میلیارډ افغانیو ته رسېدلي دي، چې د تېر مالي کال د ورته مودې په پرتله ٪(٥,۷) ډېروالی ښیي. نړیوال بانک وایي، چې په (۲۰۲۳)ز کې افغانۍ د لویو بهرنیو اسعارو پر وړاندې د ستاینې وړ ده"

ته رسېدلي دي، چې د تېر مالي کال د ورته مودې په پرتله ٪(٥,۷) ډېروالی ښیي. د عوایدو ریاست له خوا را ټول سوي داخلي عواید د پروسږ کال د ورته مودې په پرتله په سلو کې ٪(۸,۲) ښه وده کړې ده.

# Important Development Projects, Activities of MoF in FY1402

The development budget of 1 billion and 505 million Afs was approved for the Ministry of Finance in 1402 fiscal year. Nationwide, the priority significant revenue development projects of MoF were as follows: Customs modernization project (reconstruction, creation of e-systems and professional capacity building or enhancement) The project of State Budget Planning System (SBPS) maintenance, reform and development. National budget's DAD system annual fee, budgeting and project specialist staff costs. The project of valuable documents (passport) of printing. The project to provide technological tools and office equipment for the General Directorate of Revenues. The reconstruction project of small & large taxpayers' tax constituency related to Kabul. The project of General Directorate of revenues systems' improvement, capacity building & public awareness. The project to provide solar power system for provincial Mustofiyats. The project of new technological equipment and office equipment for the provincial Mustofiyats. Some of the above projects have been completed and some are still in progress.




F Has 78 Development Projects in FY1402 With a Total Value of 1.5 Billion At

| mber | Type of Project | Number of projects | Total value of projects |
|---|---|---|---|
| 1. | Modernization | 29 | 543,666,208 |
| 2. | Reconstruction | 43 | 464,033,561 |
| 3. | Printing of valuable documents & passport | 150 valuable documents including passport | 504,450000 |
| 4. | Public awareness | 5 | 11,409,950 |
| 5. | Total development budget | | 1,523,559,719 |

**Important notes and highlighting the importance of selecting projects:**

After the re-establishment of IEA, Afghanistan's national budget is financed from its own internal resources; therefore, MoF has also considered the priority activities (projects) that increase national revenues, create transparency and making useful to create facilities for taxpayers and businessmen. Furthermore, the eliminating wasteful expenses have been also given considerable attention, which has provided a basis for spending and saving of the development budget in appropriate manner and this budget is sufficient currently.

# Major Activities of MoF at Nationwide for Improving Economic Situation of Compatriots




Over 180 billion Afs as loans, guarantee fees and guarantees of people are remain unpaid on the previous regime (republic), MoF initiates the payment or disbursement process with an unprecedented measure. In the current fiscal year, 10% will be given to the bodies, which loans have been sanctioned, as their bank drafts are coming and MoF will pay it.

Approximately one million government employees are regularly paid salaries by MoF monthly; of which 86,981 are workwomen. Reduction of customs duty on primary food items up to 70%. Increasing the customs duty on some imported items with the intention of growth and support of the domestic industry. Giving priority in the process of export goods in the customs of the country. Waiving of previous years' tax penalties for the growth and support of the private sector. Exemption of 4% quarterly profit tax for private universities, madrassas (religious schools) and schools for FY1402. Increasing the working hours in the customs of the country. Providing necessary facilities to transit shipments for the purpose of business growth. Exemption of contractual subject tax 7% to agricultural, industrial and commercial sectors for the growth and development of industry. Reduction of quarterly profit tax of industrial sector from 4% to 2% Allocating a considerable budget for the treatment of narcotic/drug addicts from 80 thousand to 100 thousand in the national budget of FY1402.

# Nangarhar Customs Mobile Surveillance Staff Prevents Smuggling of Some Military Equipment

The staff of Nangarhar Customs mobile surveillance has prevented the smuggling of some military equipment in the Daka area of the said province, which the smugglers wanted to send from Pakistan to Afghanistan. Among the seized ammunition or ordnance are 12 magazines/cartridge clips of Klakov, 30 magazines of pistol, 20 magazines of other different weapons and some other equipment. A person has been arrested on this charge, which will be handed over to the relevant security bodies for further investigations.




د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.